**مطبوعاتي اعلاميه**

په نيوزيلند کې د مسلمان وژنې مسووليت د دولتونو په غاړه دی

په نيوزيلاند کې د يوې وحشتناکې زړه بوږنوونکې پېښې په ترڅ کې په جوماتونو او نورو ځايونو کې پر مسلمانانو ډزې شوې، چې پکې يوه يا څو مسلمان ضد کسانو پر مسلمانانو بريد کړی او په اړه يې حزب التحرير-استرليا لاندې ټکو ته اشاره کوي:

۱. لومړی-دعا کوو چې الله سبحانه و تعالی قربانيانو ته جنت او خپلوانو ته يې صبر ورکړي.

۲. دويم-مسلمان ضد وحشتونه يوازې په نيوزيلند کې نه دي او کومه نوې موضوع هم نه ده. يوازې وروستی بېه يې د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې په توګه څرګنده شوه، چې نيوزيلند او نور هېوادونه پکې هغه مهال ښکېل شول چې له امريکا سره يې د جګړې په مخ بولو کې هوکړه وکړه.

د تروريزم پر وړاندې جګړه يو کمپاين دی، چې مسلمانان او اسلام د يوه شته ګواښ په توګه خلکو ته وړاندې کوي، څو په اسلامي نړۍ کې نظامي لاسوهنې لازياتې کړي.

۳. دريم-مسلمان ضد وحشتونه چې تروريزم ضد مبارزه ګڼل کيږي، عام خلک داسې افراطي کړي چې په پايله کې يې بايد دا ډول زړه بوږنوونکې پېښې وکړي. مسلمان ضد وحشتونه ګڼې بڼې لري، چې تر ټولو وحشي بڼه يې د دولت لخوا په بهر کې د نظامي لاسوهنو، او په کور دننه کې په هڅوونکو څېړو کې راڅرګندېږي. په داسې حال کې چې هر مهال له ملکي وګړو غوښتل کيږي څو په پېښو کې خپل رول ولوبوي، خو په دې ډول پېښو کې پخپله دولتونه دخالت کوي.

د يادونې وړ موضوع د دولت لخوا د تروريزم پر وړاندې د جګړې تر سرليک لاندې، له مسلمان ضد بنسټونو څخه ملاتړ دی. لکه څرنګه چې په ورته پېښو کې رول لوبوي نو بايد له مسووليت يې هم تېښته ونه کړي. هغوی اور بل کړی و، تر څو بهر هېوادونه پکې وسوځي، خو اوس په ډېره وحشتناکه توګه يې کور سوځي. دا وينې د نيوزيلند دولت بهولي دي او نشي کولای چې له مسووليت يې تېښته وکړي.

د حزب التحرير-استراليا مطبوعاتي دفتر

د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۰۳

۱۴۴۰هـ.ق، د رجب ۸مه

۲۰۱۹م، د مارچ ۱۵مه